ډاکټر نبي مصداق

۲۰۱۷/۰۵/۰۸

# حکمتیار- د جنګ او سولې مخکښ

حکمتیار د شوروي د لس کلن تيري په کلونو کې له هر بل حزب او تنظيم څخه په ډېر جديت او متانت د افغانستان د آزادۍ او اسلام د سرلوړۍ لپاره جنګېدلی دی. که څه هم د ده او د ده د ناخوالو په هکله ډېرې پوښتنې ورته متوجه دي چې دی او د ده په مشرۍ د حزب اسلامي هغه مقاومت چې د روسانو په مقابل کې وکړو د تاريخ برخه ګرځېدلې ده.

د پاکستان شپې او ورځې زموږ د افغان مهاجرو لپاره د زغم وړ نه وې؛ خو له بده مرغه لوی اکثريت ته بل بديل هم نه و. افغانانو فکر کاوه، که چېرې د دوی جهادي مشران سره يو لاس شي، نو روسان به ډېر ژر، وتلو ته اړ کړي او دوی به بېرته خپلو کليو او بانډو ته ولاړ شي. خو په پاکستان اووه مشران (څلور سخت دريځه: انجينر حکمتيار، مولوي خالص، عبدالرب رسول سياف او برهان الدين رباني. درې اعتدال پسنده مشران: صبغت الله مجددي، سيداحمد ګيلاني او محمد نبي محمدي.) داسې ښکارېده چې د عادي افغانانو په خبر په بېړه کې نه و؛ ځکه اکثره د خپل او خپل تنظيم له موقف نه تېرېدو ته حاضر نه وو.

همدا علت و چې تقريباً څلور کاله د شوروي له تيري څخه، برسېره د ډېرو غونډو او اشخاصو د نومونو له يادولو نه، د پخواني پاچا نوم، د ډېرو په خوله و. ما چې د بي بي سي پښتو خپرونه له لوړمۍ ورځې څخه پيل کړې وه، د پاچا د راتګ له امله، د ډېرو ليکونو نه چې افغانانو به رالېږل، ما د بي بي سي مشران قانع کړل چې بايد له پخواني پاچا سره مرکه وکړو او د هغه له نظر څخه اورېدونکي خبر کړو.

پخواني پاچا محمد ظاهر شاه چې پاچاهي ورته په ميراث پاتې وه؛ يو انقلابي شخصيت نه وو. په يوه مصاحبه کې زما د پوښتنې، چې که پاکستان ته چې هلته اکثريت افغانان دی نه شي تلای، ځکه چې ښه مېلمه پالنه به مو ونشي، کولای شي، ډهلي ته ولاړ شي او خپل آواز پورته کړي. هغه راته وويل چې (ما افغانان پېژني، زه مجبور نه يم چې د حکمتيار په شان ستونی خيري کړم.) زما په فکر، پخواني پاچا د حکمتيار نوم ځکه ياد کړ چې هغه له هر چا نه ډېر د پخواني پاچا پر ضد و او ويل به يې چې پاچا کمونيستانو ته زمينه برابره کړه چې د اساسي قانون په لسيزه کې سرونه را پورته کړي.

پخوانی پاچا ډېر نرم مزاجه او صبور شخصيت و. په خپل ټول عمر کې يې يوازې د پاريس له لوماند ورځپاڼې سره يوه مرکه کړې وه. له راديو او تلوېزيون سره خو هيڅ مخامخ شوی نه و. ځکه هم څلور مياشتې يې ونيولې چې ما هغه د ده د تره زامنو، سردار ولي او سلطان محمود غازي لخوا وهڅاوه چې بي بي سي پښتو خپرونې سره چې ټول مهاجر او په داخل کې افغانان يې اوري، يوه مصاحبه وکړي.

پاچا حاضر شو او زه روم ته ورغلم او د لومړي ځل لپاره مې د اعليحضرت او سردار ولي سره وليدل. دوی غوښتل چې زما له خولې واورې چې څوک يم. ما سردارولی ته وويل چې زه د ځاځيو د اربکي د لښکر د مشر، حاجي کهندل خان زوی يم او کله چې ځاځيو ستا د پلار، شاه ولي خان او تره شاه محمود خان چې تقريباً شپږ مياشتې په ځاځيو کې مېلمانه وو او د کابل د نيولو په فکر کی وو، نادرخان، ستا پلار شاولي خان او ستا تره شاه محمود خان، د ځاځيو يوې لويې جرګې ته چې د افغانستان د آزادۍ لپاره راغوښتل شوې وه، جرګې ته وويل چې تاسې (ځاځي)، يو تجار قوم ياست او دا دی؛ څو مياشتې د خپل کار او تجارت پر ځای، زموږ کوربه توب کوئ. موږ له تاسو څخه درې غوښتنې لرو چې هم به ستاسو او هم زموږ راتلونکی پرې روښانه شي. نادرخان د ورونو په مشرۍ وويل چې ټول شاوخوا قومونه، يا سقاوي شوي او يا هم په کوم مخالفت کې نه دي را پورته شوي؛ خو سقاو زموږ په سر انعام ايښي. موږ هغه ته تسليم کړئ، له يوې خوا به تاسو ته انعام درکړي او له بلې خوا به موږ هم ستاسې له مخې لرې شوي وو. دويم دا چې موږ ته ووایاست چې را څخه په تنګ شوي ياست او له ځاځيو نه مو وباسئ او درېيم دا چې ملا را سره وتړئ چې کابل ونيسو.

د جرګې سپين ږيرو، ورونو ته وويل چې موږ غواړو ستاسو په غياب کې په دې درې واړو غوښتنو خبرې وکړو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

په جرګه کې هیڅوک هم حاضر نه و چې مېلمانه د پیسو په مقابل کې وپلوري او یا هم مېلمه ته ووایي چې موږ درڅخه په تنګ شوي یو او باید له ځاځیو نه ووځي. نو پرېکړه وشوه چې د اربکیو لښکر جوړ کړي او زما د پلار او شاه ولي خان په مشرۍ کابل ته په حرکت کې شي .
ما سردار ولي ته د ده او زما د پلار ځیني د جنګ نورې یادونې هم وکړې او هغه وویل چې عیناً همدا خبرې مې راته پلار هم کړې دي، ولې ته په کابل کې ماته نه یې راغلی چې ما به داسې او هغسې کړې وو.
بیا نو چې د درې نورو مصاحبو لپاره ایټالیه ته ورغلم؛ نو د یو ښه دوست په صفت به یې له ما سره، پېش امد درلود.
د پاچا د خبرو په اورېدو سره په افغانانو کې د هغه د ۴۰ کلنې دورې د آرامۍ او امنیت، ذهنیتونه پیدا شول؛ خو بر خلاف د پېښور د سخت دریځو څلورو تنظیمونو له خوا، ګواښونکي لیکونه، د پاچا، زما او زموږ د پښتو خپرونې پر خلاف را تلل .
خو له هغې سروې نه چې شهید، پروفیسور بهاوالیدن مجروح د مهاجرینو ترمنځ په صوبه سرحد او بلوچستان کې تر سره کړه، معلومه شوه چې ۷۱ سلنه افغانانو د افغانستان د مشر په صفت د پاچا نوم اخیستی و.
اوس درې لسیزې وروسته، له هغو شپو ورځو نه چې اوس حکمتیار صاحب کابل ته د سولې لپاره راغلی او غواړي، په سوله کې هم د جهاد د وخت په شان مخکښ رهبر و اوسي، په یقین سره چې د مطلق اکثریت افغانانو له خوا ورته ښه راغلاست دی او هیله ده چې ټولې لویې او کوچنۍ ډلې ټپلې او زموږ حکومت هم له ده سره لاس یو کړي؛ څو زموږ تېروتلي طالبان سولې ته راوبولي او ټول په ګډه د ډیموکراسۍ او وورولۍ په فضا کې لاسونه سره ور کړي او په افغانستان کې سوله او امنیت چې ټول یې لېوال دي راولي.
انجینر حکمتیار په خپلو هغو ویناوو کې چې په ارګ او هم د لکونو افغانانو په حضور کې یې په غازي سټوډیوم کې درلودې، وویل چې اوس هغه وخت دی لکه څرنګه مو چې د جنګ پر وخت په مېړانه له خپل اسلامي هویت او آزادۍ نه دفاع وکړه، باید له سولې نه په هماغه روحیه مدافعه وکړو او له ورور وژنې څخه لاس واخلو؛ حتی پرېښږدو چې نور یو ځاځکی وینه هم تویه شي.
افغانانو چې څلور لسیزې جنګونه او نا امنۍ تجربه کړي، مطلق لاس په دعا دي چې زموږ دا توره شپه ډېر ژر په روڼ سهار بدله شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ